# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**26میزان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د ترکيې نوي سفير د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل---------------------------------------------------------------- 1

سازمان بین المللی مهاجرت متعهد به همکاری با وزارت امور مهاجرین ادامه میدهد---------------------------------- 2

بیش ازسه هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند ----------------------------------------------------------- 2

له پاکستانه څه باندې ۵۰۰ افغان کډوالې کورنۍ بېرته هېواد ته راستنې شوې ----------------------------------------- 3

جلسه کمیته استقرار پایدار عودت کننده و بیجاشده گان در ولایت سرپل دایر شد ---------------------------------- 3

په غزني، بلخ او میدان وردګو ولایتونو کې له څه باندې ۷۰ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه---------------------------- 4

حدود ۸۵۰۰ مهاجر در دو هفته به جزایر قناری رسیدند ------------------------------------------------------------- 5

پولنډ: د دونالد تسک په مشرۍ ایتلاف د مهاجرو ضد ګوند په پرتله زیاتې رایې ګټلې---------------------------------- 6

فرانسه: د هغه قاچاق وړونکي محاکمه پیل شوه چې پر دربو کم عمره کډوالو یې جنسي تېری کړی-------------------- 7

# متن کامل اخبار

## **د ترکيې نوي سفير د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل**

د وزارت ويب سايت



**د افغانستان لپاره د ترکيې هېواد نوي سفير ښاغلي جنګ اونال د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو له سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني سره د هغه د کار په دفتر کې وليدل په پيل کې ښاغلي اونال په هرات ولايت کې د زلزلې له امله په اووښتو زيانونو خواشيني څرګنده کړه، د مهاجرينو چارو وزير ته يې د تسليت مراتب وړاندې کړل او ډاډ يې ورکړ، چې زمونږ د بيړنيو مرستو ټيمونه پروخت سيمې ته تللي او نږدې وخت کې به ددوی له لورې، نورې مرستې هم افغانستان ته راورسېږي نوموړي زياته کړه، ترکيه او افغانستان له يوبل سره ژورې اړيکې لري، چې هيڅکله به زيانمنې نه شي او دغه هېواد تل د افغانانو ترڅنګ ولاړ دی د مهاجرينو چارو وزير ښاغلي اونال ته د نوې دندې د مبارکۍ ترڅنګ نوموړي ته په چارو کې د برياليتوب دعا وکړه او زياته يې کړه، ترکان او افغانان په اسلامي، عقيدوي او تاريخي توګه له يوبل سره ډېر مشترکات لري او دغه مشترکات بايد له يوبل سره د ښو اړيکو لامل شي نوموړي وويل، ترکيه دې د نړيوالو قوانينو مطابق د افغانانو د جبري ويستلو پرځای هغوی ته کار زمينه برابره کړي، ددوی د ښه خدمت په موخه دې د مهاجرينو اتشو ته اجازه ورکړي او کوم افغانان چې په خپله هېواد ته راستنېږي بايد د يوه ګډ ميکانيزم له لارې راستانه شي**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## سازمان بین المللی مهاجرت متعهد به همکاری با وزارت امور مهاجرین ادامه میدهد

آژانس اطلاعاتی باختر



**مسوولین سازمان بین المللی مهاجرت امروز در دیدار با قاری محمد اجمل ویاړ رییس دفتر مقام وزارت، از ادامه کمک های آن اداره به عودت کننده ها اطمینان داد.**
**عبدالمطلب حقانی سخنگوی وزارت امور مهاجرین و عودت کنند گان به آژانس باخترگفت: در این دیدار رییس دفتر مقام وزارت از همکاری های قبلی آن سازمان قدردانی کرد و خواهان تداوم همکاری آن نهاد، در حل مشکلات عودت کنند گان و آغاز فعالیت دفاتر آنها، جهت عرضه خدمات به عودت کننده ها در سرحدات ولایت های پکتیا و پکتیکا شد.**
**مولوی سردار شیرزاد و شیخ عبدالرحمن رحمانی روسای رسیدگی به وضعیت بیجاشده گان داخلی و هماهنگی مساعدت ها که در این ملاقات نیز حضور داشتند، با یاد آوری از مشکلات جدی عودت کننده ها از پاکستان، خواهان مساعدت بیشتر برای آنها شدند.**
**سپس خانم انگهراد مسوول هماهنگی کمک های سازمان بین المللی مهاجرت در سرحدات و عبدالوارث مسوول ارتباطات آن سازمان گفتند که با امکانات دست داشته کمک های شان را با وزارت امور مهاجرین ادامه میدهند.**
**خانم انگهراد افزود که در حال حاضردفاتر آن سازمان در سرحدات افغانستان، در تفاهم با دیگر نهاد های مدد رسان، کمک هایش را به عودت کننده ها عرضه می نماید.**

## بیش ازسه هزار نفر مهاجر از ایران به کشور عودت نمودند

ویب سایت وزارت

**سه هزار و 165 نفر افغان مهاجر به تاریخ 24 میزان طور جبری و داوطلبانه از ایران به وطن برگشته اند.**

به گفته آمر سرحدی اسلام قلعه، از جمله افراد مذکور که شامل خانواده ها و مجردین بودند، 304 نفرآنها نیازمند وآسیب پذیر تشخیص و غرض اخذ کمک، به دفترسازمان بین المللی مهاجرت معرفی و مواد غذایی و غیر غذایی را بدست آوردند.

## له پاکستانه څه باندې ۵۰۰ افغان کډوالي کورنۍ بېرته هېواد ته راستنې شوې

د وزارت ویب سایت

د ننګرهار ولایت د کډوالو چارو ریاست د تلې په ۲۴ مه د تورخم له لارې په پاکستان کې میشت ۵۳۴ افغان کډوالي کورنۍ د راستنیدو خبر ورکړ.

د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمر د معلوماتو له مخې، ۵۳۴ کورنۍ چې درې زره او ۳۲ تنه افغانان کیږي هېواد ته راستنې شوې او د مهاجرینو چارو ریاست کې تر نوم لیکنې وروسته د مهاجرت نړیوال سازمان او د کډوالو له پاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ دفترونو ته ور وپېژندل شوې .

## جلسه کمیته استقرار پایدار عودت کننده و بیجاشده گان در ولایت سرپل دایر شد

ویب سایت وزارت



اولین جلسه کمیته استقرار پایدار عودت کننده ها و بیجاشده گان در ولایت سرپل تحت ریاست معاون والی و با اشتراک نماینده های ادارات حکومتی و نهاد های ملی و بین المللی به تاریخ 23 میزان برگزار شد.

هدف نشست، هماهنگی بیشتر و جلب مساعدت برای خانواده های عودت کننده و بیجاشده ها در سطح آنولایت بود.

ملا محمد نادر حقجو معاون والی در رابطه به رسیده گی بموقع جهت رفع مشکلات و نیازمندی عودت کننده گان و بیجاشده گان صحبت نمود و خواهان همکاری بیشتر نهاد های همکار شد.

سپس نماینده آمریت مهاجرین با ارایه پرزینتشن در مورد ارقام و نیازمندی های عودت کننده گان و بیجا شده گان در سطح ولایت معلومات ارایه نمود.

نماینده های نهاد های همکار از همکاریهای بیشتر شان اطمینان دادند.

## په غزني، بلخ او میدان وردګو ولایتونو کې له څه باندې ۷۰ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



په غزني، بلخ او میدان وردګو ولایتونو کې له سروې وروسته له ۷۱ کورنیو سره د تلې په ۲۴ مه د یادو بنسټونو له لوري نغدي مرسته وشوه .

د یاد ولایت د مهاجرینو چارو ریاست څخه د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې په غزني ولایت کې ۴۸ بې ځایه شویو کورنیو، راستنېدونکو، کونډو او اړمنو کسانو سره په دوو کټګوریو کې د ۱۰ او ۱۱ زره افغانیو په ارزښت د ډنمارک د مهاجرینو شورا مالي مرسته تر لاسه کړه .

د بلخ ولایت ۱۴ بې ځایه شویو کورنیو ته د امریکا او افغانستان د دوستی بنسټ له لوري هرې یوې ته د ۵ زره افغانیو په ارزښت خوراکي توکي، او په میدان وردګو ولایت کې د طبیعي پېښو له امله له زیانمن شویو ۹ کورنیو سره د ډنمارک له خوا ۳۷ زره افغانی ووېشل شوې .

## حدود ۸۵۰۰ مهاجر در دو هفته به جزایر قناری رسیدند

مهاجرنیوز




به گزارش مقام های اسپانیایی، در ۱۴ روز گذشته دست کم ۸۵۶۱ مهاجر توانسته اند که وارد جزایر قناری شوند. اسپانیا نسبت به این موضوع ابراز نگرانی کرده و تاکید نموده است که غالب شدن به وضعیت جاری بدون همکاری اتحادیه اروپا ممکن نیست.

روند ورود قایق های حامل پناهجویان به جزایر قناری قطع نمی‌شود. براساس داده های وزارت داخله اسپانیا از روز دوشنبه، در دو هفته گذشته دست کم ۸۵۶۱ مهاجر به جزایر قناری رسیدند. این رقم برابر با بیش از یک سوم مجموع مهاجران تازه رسیده در سال روان است.

جزایر قناری از تاریخ اول جنوری تا ۱۵ اکتوبر سال روان ۲۳ هزار و ۵۳۷ مهاجر را پذیرفتند که نشاندهنده افزایش ۸۰ درصدی نسبت به همین دوره زمانی در سال گذشته است.

بیشتر بخوانید :یک قایق با ۴۱ سرنشین از سینگال به جزایر قناری رسید

**این هفت جزیره در اقیانوس اطلس هدف اصلی مهاجران از سنگال و کشورهای افریقایی دیگر هستند که سعی می‌کنند به اسپانیا برسند. پناهجویان دیگر تلاش می‌کنند که از طریق بحیره مدیترانه به سرزمین اصلی اسپانیا راه یابند.**

**هوای ملایم و بحر آرام تر در ماه های سپتمبر و اکتوبر و برخی اوقات در نومبر معمولا به افزایش شمار مهاجران منجر می‌شود.**

**بنا به اطلاعات آژانس محافظت از مرزهای اتحادیه اروپا «فرانتکس» بی ثباتی سیاسی در سنگال نیز یک عامل دیگر شده است تا مردم، این کشور را از طریق مسیر افریقای غربی ترک کنند. اسپانیا در مورد افزایش مهاجرت غیراصولی در سال روان ابراز نگرانی کرده است.**

**بیشتر بخوانید :مفقودی بیش از ۳۰۰ مهاجر در اقیانوس اطلس و نجات ۸۶ تن**

**این کشور قبلا اعلام کرده بود که نمی‌تواند بدون کمک اتحادیه اروپا بر این وضعیت غلبه کند. فرناندو گرانده مارلاسکا، وزیر داخله اسپانیا اعلام کرد که کشورش برای نظارت بر مسیرهای مهاجرت از دو هواپیمای اضافی استفاده خواهد کرد.**

**مسیر مهاجرت از طریق اقیانوس اطلس به سوی جزایر قناری که معمولا توسط مهاجران افریقایی از کشورهای جنوب صحرا استفاده می‌شود، یکی از مرگباترین مسیرها در جهان است.**

## پولنډ: د دونالد تسک په مشرۍ ایتلاف د مهاجرو ضد ګوند په پرتله زیاتي رایي ګټلي

مهاجرنیوز




**د پولنډ پارلماني ټاکنو کي د یکشنبې په ورځ د دغه هېواد پخواني لومړي وزیر دونالد تسک په مشرۍ ایتلاف د واکمن ګوند «قانون او عدالت» په پرتله چي د کډوالو ضد دریځ لري ډېرې رایې ګټلې دي .**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د وروستیو شمېرو له مخې چې د دوشنبې په ورځ خپرې شوې، د «قانون او عدالت» ګوند ۳۵،۵۸ سلنه خو د دونالد تسک په مشرۍ ایتلاف بیا ۵۳،۵۲ سلنه رایې ترلاسه کړې دي.**

**د ټاکنو د پایلو پر اساس، د درېو ګوندونو ایتلاف د پولنډ پارلمان کې له ۴۶۰ څوکیو ۲۴۸ خپلې کړې او پاتې نورې څوکۍ په محافظه کارو ګوندونو پورې اړه لري .**

**کارپوهانو په تېرو ۳۴ کلونو کې د پولنډ په وروستیو ټاکنو کې د ګډون کچه (۷۴،۲۵) بې سارې بللې ده.**

**دونالد تسک چې پخوا یې د اروپایي شورا مشر په توګه دنده ترسره کړې ده د لومړنیو پایلو د معلومېدو وروسته وویل: «پولنډ بریالی شو، دموکراسي بریالۍ شوه«.**

**د پولنډ د ټاکنو پایلې له اروپایي ټولنې سره د دغه هېواد پر ترینګلو اړیکو مهمې اغیزې لرلی شي. دغه اړیکې هغه مهال ترینګلې شوې چې د پولنډ حکومت د اروپایي اتحادیې پر وړاندې سخت دریځ خپل کړ چې له امله یې دغې ټولنې له پولنډ سره مرستې وځنډولې. دانلد تسک وویل هڅه به وکړي چې دغه مرستې بیا پیل شي.**

**بیا ولولئ :<u>د پولنډ لومړي وزیر د کډوالۍ ضد کمپاین کې فرانسه کې د احتجاجونو له انځورونو کار اخیستی</u>**

**د کډوالۍ پر سیاست بیاکتنه**

**دونالد تسک همدارنګه دنده لري چې د پولنډ د کډوالۍ پر پالیسۍ بیاکتنه وکړي.**

**د پولنډ حکومت له ۲۰۲۱ راهیسې په منظمه توګه هغه افغان، سوریایي، عراقي او افریقایي کډوال له خپلې خاورې څخه په شا تمبوي چې له بېلاروس څخه دغه هېواد ته د اوښتو هڅه کوي. ډېری دغه کډوال په اونیو اونیو <u>د بېلاروس او پولنډ په ځنګلي سیمو کې بند پاتې کېږي</u>.**

**د پولنډ پخواني حکومت د ورتلونکو کډوالو د مخنیوي لپاره له بېلاروس سره پولې ته سرتېري استولي او سرحدي دېوال یې هم جوړ کړی و چې ۱۸۶ کیلومتره اوږدوالی لري .**

**بیا ولولئ :<u>پولنډ له بېلاروس سره پولې ته ۱۰ زره پوځیان استوي</u>**

**بل لور ته مرستندویه سازمانونه هیله لري چې د نوي حکومت له رامنځته کېدو سره دوی وکولی شي چې په ازاده توګه فعالیت وکړي.**

**دغه سازمانونه وايي چې په تېرو وختونو کې پر پوله د امنیتي تدابیرو له امله د کډوالو پر وړاندې تاوتریخوالی زیات شوی دی.**

## فرانسه: د هغه قاچاق وړونکي محاکمه پیل شوه چې پر درېو کم عمره کډوالو یې جنسي تېری کړی

مهاجرنیوز

**د فرانسې په دویې ښار کې د دوشنبې په ورځ د ۴۳ کلن محمد جبارزاده محاکمه پیل شوه. پر دغه کردي الاصله قاچاق وړونکي تور دی چې په ۲۰۱۷ کې یې پر درېو کم عمره کډوالو جنسي تېری کړی دی.**

**د وا نورد ورځپاڼې د خبر له مخې، محمد جبارزاده چې له دې وړاندې په ۲۸ کاله بند محکوم شوی د دوشنبې په ورځ د اکتوبر په ۱۶مه د فرانسې د شمالي دویې محکمه کې حاضر شو. پر دغه ۴۳ کلن کردي الاصله ایراني تور دی چې په ۲۰۱۷ کې یې پر دریو کم عمره کډوالو جنسي تېری کړی دی. نوموړي پرې لګول شوي تورونه رد کړي دي.**

**محمد جبارزاده په ۲۰۱۷ کې د ګران سنت په لينير مهاجر کمپ کې د انساني قاچاق وړونکو مشر و. وا نور ورځپاڼه زياتوي چې نوموړي به د وسلې له لارې کډوال ګواښل.**




**ببلابېلې محاکمې**

**دغه ايرانی ځلور ځله د محکمې له خوا په بند محکوم شوی دی. د ۲۰۲۰ په فبرورۍ کې محکمې محمد جبارزاده په ۱۲ کاله بند محکوم کړ. پر هغه تور و چې د انساني قاچاق د يوې شبکې مشري يې کوله. نوموړی دغه راز د ۲۰۱۹ په اکتوبر مياشت کې د اې ۲۸ پر لويه لاره له نورو قاچاق وړونکو سره د ډزو د تبادلې په تور په ۵ کاله بند محکوم شوی و.**

**هغه د ۲۰۱۸ په جولای مياشت کې د دنکرک او نورماندي ترمنځ د کډوالو د انتقال په تور په ۶ کاله بند محکوم شو او د ۱۵ زره يورو جريمه ورته وټاکل شوه. نوموړی همدارنګه پيوتوک کې د پوليسو پر وړاندې د تاوتريخوالي په تور په ۵ کاله بند شوی و او د ۱۵ زره يورو جريمه ورته له ټاکل شوې وه.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د کډوالۍ پر لار د مهاجرو جنسي ځورونه کومه نوې خبره نه ده. په ۲۰۱۶ کې فرانسه کې یوې ۱۶ کلنې اریتریایۍ د یوه سړي پر وړاندې محکمې ته شکایت ثبت کړی و. د بولونی سور مېر ښارنوال په وینا، دغه کس د شپې د یادې کډوالې خیمې ته ننوتی شوی او جنسي تېری یې پرې کړی و .